اونيزه مجله :350
WEEKLY BOOKLET:350

د شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو تحريري ګلدسته

# د اميرِ اهلِ سُنَّت نه د دروغو

## پهٔ باره کښې 24 سوالونه او جوابونه

PASHTO


02 د معاشرې نه به د دروغو بدي څنګه ختمه شي؟
07 آيا دروغو ويلو سره اودس ماتيږي؟
09 آيا د روغې کولو د پاره دروغ ويلې شي؟
15 د دروغو او چغلئ نه د بچ کيدلو طريقه څهٔ ده؟



شيخ طريقت امير اهل سنت د دعوت اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الياس
عطار قادری رضوی دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیِّنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِط بِسْمِ اللہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِط

# د امیرِ اہلِسُنَّت نه د د روغو پۀ باره کښې 24 سوالونه او جوابونه

**دُعائے خلیفۀ امیرِ اهلِسُنَّت:** یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "**د امیرِ اهلِسُنَّت نه د دروغو پۀ باره کښې 24 سوالونه او جوابونه**" ولولي یا واوري، هغه ته همیشه د رښتیاؤ وئیلو او د دروغو نه د بچ کیدو توفیق عطا کړې او بے حسابه یې اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پۀ دُرُود او سلام باندې د مئین مقام

حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ یوه ورځ د بغداد شریف ډیر لوئي عالم حضرت ابو بکر بن مُجاهد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ له تشریف یوړلو نو هغوئي فوراً اودریدلو او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د هغوئي تندے یې ښکل کړو او ډیر پۀ تعظیم یې ځان سره خوا ته کښینولو، حاضرینو عرض وکړو: یا سیِّدي! تاسو او د بغداد خلقو به تر پرونه پورې دوئي ته دیوانه وئیلو خو نن د دوئي دومره تعظیم ولې؟ جواب یې ورکړو: ما هسې داسې اونه کړل، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! بیګاه ما پۀ خوب کښې یوه ایمان تازه کوونکې نظاره ولیدله چې ابو بکر شبلي پۀ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو نو د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودریدلو او دوئي یې خپلې سینې ته راجُخت کړو، او د دوئي تندے یې ښکل کړو او ځان سره خوا ته یې کښینولو. ما عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پۀ شبلي باندې د دومره شفقت څۀ وجه ده؟ د **الله** پاک محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غیبو خبر ورکولو سره) ووفرمائیل چې دا د هر نمونځ نه پس دا آیت لولي:

﴿ لَقَدْ جَآءَکُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِکُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْہِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْکُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾ ﴾ (پ11، التوبہ: 128) او د دې نه پس پۀ ما باندې دُرُود لولي.

(القول البدیع، ص 346)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّـى اللهُ تَعالٰـى عَلٰـى مُـحَمَّد

**سوال:** د چا پهٔ ناځاپهٔ وفات کيدو باندې د هغهٔ نزدې خپلوانو ته د رابللو د پاره وئيلے شي چې "ډير بيمار دے، تاسو زر کور ته راشئ" حالانکه چا ته چې بيمار وئيلے شي هغه وفات شوے وي دا ځکه وائي چې نزدې خپلون ته يې [پهٔ ناځاپه خبر ډير زيات] تکليف اُونه رسي، داسې وئيل څنګه دي؟

**جواب:** دا دروغ دي ځکه د داسې وئيلو نه اِحتياط کول پکار دي. د دې پهٔ ځائے داسې وئيل پکار دي چې ايمرجنسي ده زر راشئ. پهٔ ايمرجنسي کښې به سخته بيماري هم راشي او وفات به پکښې هم شامل شي. دا يوه محتاط جمله ده خو خلق پرې نه پوهيږي او هم دا ګډې وَډې جملې وائي حالانکې د دې متبادل موجود وي خو هغې ته خيال نه کوي. د **الله** پاک نه ويريدل پکار دي. نن د بَل چا د مرګ نه خبر ورکوو سبا به زمونږ د مرګ خبر هُم عام شي، ټول به مړه کيږو د دې نه هيڅوک نهٔ شي تښتيدے ځکه هميشه رښتيا وئيل پکار دي. (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 244/2)

**سوال:** نن سبا مونږ وينو چې خلق پهٔ خبره خبره کښې دروغ وائي او پهٔ معاشره کښې دروغ ډير معمولي ګڼلے کيږي بلکې بعضې خلق دروغ وئيل ښهٔ ګڼي نو پهٔ دې باره کښې تاسو څهٔ راهنمائي وکړئ د پاره د دې چې زمونږه د معاشرې نه د دروغو بدي ختمه شي.

**جواب:** واقعي چې پهٔ معاشره کښې دروغ ډير زيات عام دي او پهٔ هره خبره کښې دروغ وئيلے کيږي، مثلاً خلق پهٔ تجارت کښې دروغ وائي، پهٔ نوکرئ کښې دروغ وائي، که څوک نوکر نيول غواړي نو دروغ وائي، که څوک نوکر کيدل غواړي نو هغه به دروغ وائي، که سودا اخلي نو دروغ به وائي او پهٔ ټوقو کښې هم دروغ وائي نو داسې قدم پهٔ قدم دروغ وئيلے کيږي. بعضې دروغ داسې وي چې بنده ته پخپله هم پته وي چې زهٔ دروغ وايم او بعضې وخت يې بالکل توجه نه وي او بنده دروغ وائي ❁ لکه د چا طبيعت چې ډير خراب وي نو که د هغه نه پوښتنه وکړې چې څهٔ حال دے؟ طبيعت دې څنګه دے؟ نو هغه به وائي: ښهٔ يم. نو که د هغهٔ توجه د خپل مرض پهٔ لور هم وي چې زهٔ ښهٔ نه يم، ډير بيمار يم او تيزه تبه مې ده او بيا هم هغه "ښهٔ يم" وائي نو دا دروغ دي. تر دې پورې چې که هغهٔ پهٔ

دې سوچ "اَلْحَمْدُ لِلّٰه! " ووئيل چې زهٔ ښهٔ يم لکه خلق د "ښهٔ يم" پهٔ ځائے هم "اَلْحَمْدُ لِلّٰه! " هُم وائي نو بيا دا هم دروغ دي. چې بنده بيمار وي نو خلق ترې پوښتنه کوي چې څهٔ حال دے؟ پوښتنه کوونکي هم پهٔ رَسمي طور پوښتنه کوي ګڼې که مريض د داسې خلقو پهٔ مخکښې خپلې بيمارۍ بيانول شروع کړي نو هغوئي به د دې د اوريدو طاقت اُونه لري او دا به برداشت نکړے شي. پهٔ داسې موقعو کښې د مريض توجه د **الله** پاک د نعمتونو پهٔ لور پکار ده مثلاً [پهٔ دې سوچ چې] زهٔ مسلمان يم نو بيا که هغه د حال پهٔ تپوس باندې د خپلې مسلمانۍ پهٔ تصور سره "اَلْحَمْدُ لِلّٰه! " اُووائي نو صحيح به وي ګڼې د "ښهٔ يم" پهٔ معنىٰ کښې که اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ووائي نو دا به دروغ ګڼلے شي ❁ هُم داسې سوداګر د خپل مال پهٔ تعريف کولو کښې پته نه لګي چې څهٔ څهٔ وائي او بعضې وخت خو د مال خرڅولو د پاره ښکاره دروغ وائي، مثلاً پهٔ دومره کښې خو ما ته واره نه کوي، پهٔ دومره خو ما ته هم نه دے پريوتے او پهٔ دومره خو ما هم نه دے اخستے، بيا يې ګاهک ته پهٔ "اخستے شوي نرخ" بلکې بعضې وخت خو د "اخستو د نرخ" نه هم پهٔ کم نرخ ورکړي حالانکې د اخستو نرخ يې څهٔ بَل څهٔ وي خو هغه د اخستو پهٔ نرخ ښودلو کښې دروغ وائي. ❁ داسې که څوک دکان ته د پيسو ماتولو د پاره لاړ شي نو دروغ وئيلے کيږي چې نشته حالانکې ماتې ورسره ښې ډيرې وي. پهٔ دې معامله کښې دکاندار دا هم وئيلے شي چې مونږ ته پخپله د دې ضرورت پيښيدے شي خو کهٔ داسې اُووائي نو بَل ګَس به بحث کوي چې ما له يې راکړه، زما ورته ډير ضرورت دے نو ځکه ورته دروغ اُووائي چې نشته. ياد ساتئ! د دروغو عذاب به برداشت نکړے شئ ځکه دروغ مهٔ وايئ او که مخامخ ګَس بحث کوي نو تاسو هغه داسې پوهه کولے شئ چې که چرې ما وئيلے وے چې زما سره ماتې نشته نو تاسو به زما سره بحث نهٔ کولے خو ما د دروغو نه بچ کيدو د پاره تاسو ته رښتيا ووئيل چې ماتې شته خو ما له هم ګاهک راځي او غټ نوټ راکوي نو د ماتو پيسو ما ته هم ضرورت وي، ځکه ما ساتلې دي نو اوس پهٔ رښتيا وئيلو تاسو زما سره بحث کوئ. ❁ بهر حال خلق پهٔ خبره خبره کښې دروغ وائي داسې که چرته پهٔ تللو کښې ناوخته شي نو چې کله ترې پوښتنه وکړے شي چې ولې دې ناوخته کړو؟ نو د دې به هم څهٔ نا څهٔ بهانه لټوي چې فلانکے راسره ميلاؤ شوے وو يا پهٔ خيټه مې درد وو وغيره حالانکې د ناوخته کولو وجه د خيټې درد نه وو ځکه چې پهٔ خيټه دې درد وو نو څنګه راغلې؟ بلکې ناوخته دې کړو ځکه چې د کور نه ناوخته راوتے وې. بعضې وخت پهٔ ناوخته کولو دا هم وائي چې پهٔ ټريفک کښې انښتے

ووم حالانکې تاسو د کور نه ناوخته راوتلي وئ او په ټریفک کښې د انښتو په وجه دربانديِ نور هم ناوخته شو نو داسې په تاسو په ټریفک کښې د انښتو په وجه ناوخته نه شو بلکې د کور نه په ناوخته راوتو دربانديِ ناوخته شو. ياد ساتئ چې څوک زر رسيدل غواړي هغه د کور نه هم زر ووځي خو په دِيني كار كښې خاص طور په انسان ناوخته کيږي. که څوک اِجتماع يا مَدَني مذاکرے ته ناوخته راورسي نو هغۀ هم په ټریفک کښې د انښتو بهانه کوي نو داسې بعضې وخت بنده په نيک کارونو کښې هم دروغ وائي، **الله** پاک دې مونږ د دروغو نه وساتي او د رښتوني نبي صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تابعدارئ کښې دې د رښتياؤ وئيلو سعادت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّيْن صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 60/3 تا 62 )

**سوال:** د دروغو وئيلو لړ کښې زمونږ په معاشره کښې ډير څيزونه رائج دي او خلق د دې ذِکر هم کوي، مثلاً "دلته خو د دروغو وئيلو اِجازت دے" وغيره، د دې نه معلومه شوه چې دروغ يوه لويه موضوع ده، لکه څنګه چې د غيبت په بابله ډير وضاحتونه بيان کړے شول دغسې د دروغو په بابله هم پوره عِلم ضروري دے، لکه څنګه چې تاسو فرمايئ چې زۀ په دې باره کښې فيصله نشم کولے چې دلته دروغ زيات دي که غيبت؟

**جواب:** داسې ښکاري چې دلته دروغ زيات دي، [څوک] چې دروغ وائي [هغه] هډو پوهيږي نۀ چې دروغ مې اُووئيل. يوه ورځ مونږ د يو مريض د تپوس د پاره لاړو، هغه مريض په ازميښت کښې ښکاريدو، مونږ چې د هغۀ سره همدردي وکړه نو د هغۀ سره موجود رشته دار ووئيل چې دۀ ته هيڅ مسئله نشته، دا جوړ دے. د هغۀ دا جمله دروغ وه، که هغۀ ته دا معلومه نه وے چې طبيعت يې څنګه دے نو بيا بيله خبره وه خو [د هغۀ د خراب طبيعت] د معلوميدو باوجود وئيل چې ښۀ دے، دا به دروغ وي. نن سبا د مريض په باره کښې هم داسې وئيلے شي حالانکې په مريض ډير تکليف وي نو په داسې موقع کښې طبيعت ښۀ دے وئيل به دروغ وي.

هم داسې که څوک چا ته د سختي خبرې کولو نه پس ووائي چې زما خبره په تاسو بده خو اونه لګيده؟ مخامخ کَس وائي چې نه نه، خبره دې راباندې هيڅ بده نه اونه لګيده، حالانکې په هغۀ باندې ډيره بده لګيدلې وي په دې وجه هغه په زړۀ کښې ډير خفه شوے وي خو دروغ اُووائي چې هيڅ نه دي شوي. په دروغو کښې ډيرې خبرې راځي بس انسان له اِحتياط کول

پکار دي، پوښتنه کوونکي خو به پوښتنې کوي خو په جواب ورکولو کښې دروغ شاملول نه دي پکار. دغسې که څوک پریشانه وي او بَل کَس د هغه نه پوښتنه وکړي چې څۀ خبره ده تاسو پریشانه ښکارئ؟ او هغه انکار اوکړي چې هيڅ پریشاني نشته نو دا هغۀ دروغ ووئيل. په پریشانۍ وئيلو کښې څۀ باک دے؟

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 318/3)

**سوال:** په دروغو وئيلو او بهانه کولو کښې څۀ فرق دے؟

**جواب:** دروغ د رښتياؤ اُلټا دي خو بهانې بعضې وخت صحيح هم وي او بعضې وخت غلطې هم. (د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِيَه په خوا کښې ناست مفتي صاحب ووفرمائيل:) کومه خبره چې د واقعي خلاف وي هغې ته به دروغ وئيلے شي خو په بهانو کښې دواړه خبرې کيدے شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 238/3)

**سوال:** د دروغو تعريف کول څنګ دي؟

**جواب:** که د خوشامدې د پاره د چا تعريف وکړے شي چې "نن تاسو ډير ښۀ ښکارئ" نو دا به دروغ او ګناه وي. بهر حال! مونږ له په مسلمان باندې ښۀ ګمان ساتل پکار دي (الحديقۃ الندىۃ، 174/3) چې مونږ به هغۀ ته ښۀ ښکارو ځکه خو هغۀ داسې وائي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 307/3)

**سوال:** آيا پيريان هم دروغ وائي؟

**جواب:** د تولو نه وړومبے دروغ خو هم يو پيري وئيلي وو او هٰغه پيرے "اِبليس" دے کوم ته چې مونږ شيطان وايو. شيطان په اَصل کښې پيرے دے.

( پ 15، الکہف:50. مرأۃ المناجيح، 661/6)

بعضې خلق دۀ ته فرښته وائي کومه چې صحيح خبره نه ده. د ابليس اصلي نوم "عَزازِيل" دے.

( تفسیر طبری، پ 1، البقرۃ، تحت الآیۃ:34، 262/1، حدیث:686) (ملفوظات امیر اہلِ سنّت، 52/10)

**سوال:** آيا په دروغو وئيلو اودس ماتيږي؟

**جواب:** پهٔ دروغو وئيلو اودس نه ماتيږي خو بهتره ده چې بيا اودس وکړے شي.
(بحر الرائق، 34/1). (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت ، 2/ 101)

**سوال:** آيا ماشومانو ته د سبق نه ډکې د دروغو قيصې کولے شي؟

**جواب:** داسې دروغ د کومو چې هر چا ته پته وي او چې څوک يې واوري نو هغوئي پوهه شي چې دا دروغ دي، پهٔ دې کښې هيڅ باک نشته. (احياء العلوم، 419/2. احياء العلوم مترجم، 120/2) لکه پيشو چې شادو ته داسې ووئيل وغيره. ظاهره ده چې اوريدونکي پوهيږي چې دا دروغ دي، بيا شادو کهٔ پيشو ته څهٔ وئيلي وي نو هُم څوک پرې پوهيږي؟ خو دا هُغه وخت صحيح دي چې کله څهٔ ضرورت وي ګني فضول خبره ده.
(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 271/3)

**سوال:** کوم ګس چې اکثر دروغ وائي نو د هغه ربنتيا خبره هم دروغ ښکاري، آيا دې ته به بدګماني وئيلے شي؟

**جواب:** پهٔ کثرت سره دروغ ويوونکے ګس کله صحيح خبره هم کوي، خو دا فطري خيز دے چې د داسې ګس پهٔ ربنتيا خبره هم يقين نه کيږي. بهر حال دې ته به بدګماني نه وئيلے کيږي. (تفسیرقرطبی، پ 26، الحجرات، تحت الآیۃ:12، 238/8 ماخوذاً) (ملفوظات امیر اہل سنت، 29/8)

**سوال:** که څوک چا ته ووائي چې "خلقو تاسو ته سلام وئيلے دے" حالانکې هر ګس نه وي وئيلے نو آيا دا به دروغ وي؟ (1)

**جواب:** که هر چا دا خپل وکيل جوړ کړے وي چې "زمونږ سلام اورسوه" نو ټيک ده، ګني صحيح نه ده. خلق عموماً ما ته وائي چې "زمونږ ټول کور والؤ يا کلي والؤ تاسو ته سلام وئيلے دے" که واقعي ټولو دے وکيل جوړ کړے وي نو هيڅ باک نشته، ګني د خپل اړخ نه داسې وئيل نه دي پکار.

---

[1]... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیر ِاهل ِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب د امیرِ اهلِ سنّت دامت بَرَکاتُہمُ العالیه عطا کړے شوے دے۔

(ملفوظات امیر اہل سنت، 202/8)

**سوال:** بعضې خلقو د دې جملې نه خپل تکیه کلام (هٰغه لفظ کوم چې پهٔ خبرو کښې بیا بیا وئیلے شي هغې ته تکیه کلام وئیلے شي) جوړ کړے دے. چې ”که زهٔ دروغ وایم نو پهٔ ځنکدن کښې دې زما کلمه نصیب نه شي“ داسې وئیل څنګ دي؟

**جواب:** جمله خو ډیره خطرناکه ده او ډیره جرأت مندي ده. لکه د ایمان چې هډو څهٔ اهمیت نشته چې که دروغ وایم نو پهٔ ایمان باندې مې دې خاتمه اُونه شي. داسې خبره خو چرې پهٔ خوب کښې هم نه دي کول پکار. د دې پهٔ حکم کښې تفصیل دے چې داسې جمله دې نه وئیلے کیږي.
(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 214/3)

**سوال:** که چرې یو اِنسان درې کَرَته د دروغو پهٔ خبره قرآنِ پاک راواخستو نو د هغې څهٔ ګناه ده؟

**جواب:** پهٔ قرآنِ کریم باندې قَسم خوړل قَسم دے البته صرف قرآنِ کریم راخستل یا پهٔ هغې باندې لاس کیښودل او څهٔ خبره کول قسم نه دے، پهٔ فتاویٰ رضویه جلد 13 صفحه 574 باندې دي: پهٔ دروغ خبره باندې قرآنِ مجید راخستل سخته عظیمه ګناهِ کبیره [یعني غټه ګناه] ده او پهٔ رښتوني خبره باندې د قرآنِ عظیم پهٔ قَسم خوړلو کښې هیڅ باک نشته او که ضرورت وي نو خوړلے یې هم شي خو دا قَسم ډیر سختَوي. د څهٔ خاص ضرورت نه بغیر نه دي خوړل پکار. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،494/1)

**سوال:** پهٔ ټوقو کښې دروغ وئیل څنګ دي؟

**جواب:** پهٔ ټوقو کښې د دروغو وئیلو پهٔ بابله یو څو روایتونه وګورئ: ❁ سرکارِ عالي وقار صَلَّی الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: بنده پوره مؤمِن نه وي تر څو پورې چې پهٔ ټوقو کښې هم دروغ پرې نه ږدي او جګړه پرې نه ږدي اګر که رښتونے وي. (مسند احمد، 268/3، حديث: 8638)

❁ نبيِ کریم صَلَّی الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: څوک چې خبره کوي او د خلقو د خندولو د پاره دروغ وائي د هغه د پاره هلاکت دے، د هغه د پاره هلاکت دے یعني بربادي او تباهي ده. (ترمذی، 141/4، حديث: 2322) ❁ خوږ آقا صَلَّی الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: بنده خبره

کوي او صرف د دې د پاره يې کوي چې خلق وخندوي خو هغه د دې پهٔ وجه د دوزخ دومره ژورې [کندې] ته غورځيږي کومه چې د اسمان او زمکې ترمينځه د فاصلې نه هم زياته [ژوره] ده او د ژبې نه چې څومره غلطي کيږي دا د هغې غلطۍ نه هم زياته ده کومه چې د ښپو نه کيږي.
(کتاب الزہد لابن المبارک، 255، حديث: 734) (ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 289/3)

**سوال:** د چا د خندولو د پاره پهٔ ټوقو کښې د دروغو، غيبت يا تهمت نه کار اخستے شي؟

**جواب:** نه جي! داسې کول ګناه ده. نن سبا د دروغو ټوقې ټقالې ډيرې کيږي دا ټوله ګناه ده. لکه څنګه چې ټوقمار [کاميډين] خلق خندول کوي يا پهٔ کتابونو او اخبارونو کښې هسې بے مقصده ټوقې ليکلې وي د کومو مقصد چې صرف خلق خندول وي، دا نه دي پکار. پهٔ روايتونو کښې دي: څوک چې د خلقو د خندولو د پاره دروغ خبره کوي نو هغه د دوزخ ژورې [کندې] ته غورځيږي. (کتاب الزہد ، لابن المبارک، ص 255، حديث: 734) البته بعضې د روغو ټوقې ټقالې داسې هم وي د کومو چې خندول مقصد نه وي بلکې عبرت او سبق اخستل مقصد وي او د بيانونکي مقصد هم دغه وي نو پهٔ دې کښې د جواز ګنجائش شته.
(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 446/3)

**سوال:** آيا د دوو دوستانو پهٔ مينځ کښې د صلح کولو د پاره دروغ وئيلے شي؟

**جواب:** د لفظ صلح پهٔ لام باندې پيش نشته بلکې دا ساکن دے يعني صُلْح. د دروغو وئيلو صورت خو موجود دے خو تر څو پورې چې بغير د دروغو وئيلو صلح ممکن وي نو دروغ دې نه وئيلے کيږي، پهٔ هر صورت کښې د دروغو وئيلو اجازت نشته. که ټولې لارې بندې شي او ربښتيا وائي او روغه نه کيږي نو بيا د دروغو وئيلو ګنجائش پيدا کيږي خو بيا هم که پهٔ توريه کار کيږي (د توريه مطلب دے د لفظ دويمه معنیٰ اخستل) نو د دې نه دې کار واخستے شي ښکاره دروغ دې نه وئيلے کيږي. ( بہارِ شريعت ، 3/ 517، 518، حصہ:16 مفہوماً) دا ټول احتياطونه به هم هغهٔ [ګس] کولے شي د چا سره چې عِلم وي.
(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 317/3)

**سوال:** مونږ پهٔ خپل مینځ کښې پهٔ خبرو کولو کښې د دروغو او رښتیاؤ خیال نه ساتو، داسې نصیحت وکړئ چې د دروغو نه مو نفرت شي او مونږ چرې هم دروغ نه وایو.

**جواب:** دروغ واقعي ډیر بد څیز دے. دروغ حَرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. هر مسلمان له د دې نه بچ کیدل پکار دي او همیشه رښتیا وئیل پکار دي. وئیلے شي چې "سانچ کو آنچ نہیں [یعنې رښتیاؤ ته هیڅ ضرر نهٔ رسي] ."
اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرت بي بي عائشه صِدّیِقه رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: رسولِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دروغو نه زیات ناخوښه هیڅ څیز نه وو، چې کله به آقا کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا د دروغو نه خبر شو، اګر که هٰغه دروغ به واړه شان وو نو هٰغه دروغ ویونکے به یې د خپل مبارک زړهٔ نه ویستو، تر دې پورې چې حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به معلومه شوه چې هغهٔ توبه کړې ده. (مستدرک، 133/5، حدیث: 7126 ) سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چې کله بنده دروغ وائي نو د هغې د بدبوئي نه فرښته یو میل لرې شي. (ترمذی، 392/3، حدیث: 1979) د دروغو نه د بچ کیدو د پاره د دروغو وئیلو عذابونه او د رښتیاؤ وئیلو د فضائیلو معلومات حاصل کړئ او د دې د پاره د بهارِ شریعت پهٔ شپاړسمه حصه کښې موجود "جھوٹ کا بیان" د دې سره سره د اِحیاءُ العلوم دریم جلد ولولئ، پهٔ دې کښې د دروغو پهٔ باره کښې کافي تفصیل موجود دے، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دروغو نه به مو نفرت پیدا شي. **الله** کریم دې مونږ ټول د رښتوني نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله رښتوني جوړ کړي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 305/3)

**سوال:** مونږ پهٔ مارکیټ کښې دکانداري کوو چرته چې ډیر زیات دروغ وئیلے کیږي، د دې نه د بچ کیدو څهٔ طریقه وښایئ.

**جواب:** چې کله مونږه روژې نیسو نو اُوږي کیږو او تږي کیږو خو بیا هم روژې نیسو او د تراویح کولو پخه اراده مو وي نو پهٔ تراویح کولو کښې هم کامیاب شو نو داسې د دروغو نه د بچ کیدو هم پخه اراده وکړئ نو د دې نه به هم بچ شئ. دروغ وئیل پریږدئ که پهٔ رښتیاؤ وئیلو کښې مو د کروړونو روپو نقصان هُم کیږي یا سودا خرابیږي نو خرابه دې شي، څهٔ پته لګي که د کروړونو روپو سودا وشي او پهٔ بنده د زړهٔ دوره راشي، پهٔ ژوند هیڅ باور نشته. که د زړهٔ دوره پرې رانشي نو بیا به هم کروړ روپۍ

تر څو پورې خوري؟ داسې پیسې په دوایانو ځي، یا ډاکوانو له لاړې شي او پته نه لګي چې چرته یې زور ووځي. بهر حال په دروغو کښې برکت نشته بلکې نحوست او بربادي ده او دروغ وئیل دوزخ ته بوتلونکے کار دے، ځکه دروغ د خپلې ډکشنرۍ نه اوباسئ. یاد ساتئ چې رښتیا ویونکے همیشه کامیابیږي، یوه محاوره ده: "سانچ کو آنچ نہیں" یعنې رښتیاؤ ته هیڅ ضرر نۀ رسي. که ګاهک ځي نو لاړ دې شي هیڅ خبره نه ده، د رښتیاؤ وئیلو سره به په ورو ورو ستاسو اعتماد بحال شي، تر دې پورې چې یو وخت به داسې راشي چې خلق به وائي چې یار دا دکاندار رښتونے دے او پخپله به ستاسو د دکان ګاهک زیات شي، بیا چې تاسو څۀ وایئ ګاهک به یې په پټو سترګو مني. د حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللہ عَنْهما نه روایت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چې رښتیا ویونکے او امانت دار سوداګر به د انبیاؤ، صِدّیقینو او شهیدانو سره وي. ( ابن ماجه، 6/3، حدیث:2139)

( ملفوظات امیر اہل سنّت، 298/8)

**سوال:** زما د فرنیچر کاروبار دے. بعضې دکانداران داسې کوي چې سپک مال ته درونډ او درونډ مال ته سپک وائي او خرڅوي یې، داسې کول څنګ دي؟

**جواب:** بعضې څیزونه چې وزن دار وي نو هغه په ښۀ قیمت خرڅیږي، خو بعضې څیزونه که سپک وي نو هغه په ښۀ بیعه خرڅیږي. که څوک څۀ څیز ته سپک یا وزن دار وائي او خرڅوي یې او ګاهک ته معلومه وي چې کوم څیز ته سپک یا درونډ وئیلے شي، ورسره دا هم چې د ټګۍ برګۍ څۀ صورت پکښې نه وي او دکاندار دروغ هم نه وائي نو داسې کول صحیح دي. البته که هغه سپک څیز ته درونډ او درونډ څیز ته سپک وائي، د خراب معیار څیز ته ښۀ وائي او خرڅوي یې او د دروغو او ټګۍ برګۍ نه کار اخلي نو داسې کول جائز نه دي، ( در مختار، 229/7) ځکه چې که ګاهک ته پته ولګي چې ما ته دکاندار دروغ وئیلي دي، دهوکه یې راکړې ده یا د څیز عیب یې پټ کړے دے نو هغه به هډو څیز نه اخلي، یا که اخلي یې نو قیمت به یې کموي. کوم دکاندار چې د دروغو یا ټګۍ برګۍ نه کار اخلي هغه به ګنهګاریږي.

(ملفوظات امیر اہل سنّت، 242/9، 243)

**سوال:** نن سبا پهٔ مارکیټ کښې پهٔ یو څیز کښې هم د ټګۍ برګۍ نه نشې بچ کیدے تر دې پورې چې د ګاډو زړو پرزو (Spare Parts) ته نوې او لوکل ته اصلي پرزې وئیلے شي او خرڅولے شي، داسې کول څنګ دي؟

**جواب:** که د ګاډو زړو پرزو ته نوې، او خراب ته ښهٔ او د بهر ملک پرزو ته د هٔغه ملک پرزې ووئیلے شوې او خرڅې کړے شوې د کوم ملک چې مشهورې وي نو دا ټوله ټګي برګي او دروغ دي او داسې کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. البته که خرڅونکي اخستونکي ته دا ووئیل چې زما سره نوې نه زړې پرزې دي لکه څنګه چې یې خلق نوې کوي او خرڅوي یې او داسې یې ګاهک ته د پرزو حالت بیان کړو نو بیا پهٔ اخستو او خرڅولو کښې هیڅ ګناه نشته. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 505/1)

**سوال:** د بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د لیکلو معامله کښې څهٔ احتیاطونه وو، پهٔ دې باره کښې څهٔ ارشاد کړئ؟

**جواب:** زمونږه بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د الفاظو پهٔ استعمال کښې ډیر احتیاط کولو. د اِحیاءُ العلوم پهٔ دریم جلد کښې دي: حضرت میمون بن ابو شبیب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ ناست ووم خط مې لیکلو چې یو حرف ته راورسیدم نو اودریدم چې دا لفظ ولیکم نو خط به ښکلے شي خو د دروغو نه به بچ نشم. بیا ما د هٔغه لفظ د نه لیکلو اراده وکړه چې بے شکه زما خط دې ښکلے نه وي خو زهٔ به دا لفظ نه لیکم. نو ما ته د کور د یو ګوټ نه غږ وشو پهٔ کوم کښې چې د قرآنِ کریم د دې آیت اواز وو:

﴿يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِى الْاٰخِرَةِ ۚ﴾
(پ 13، ابراہیم: 27)

مفہوم ترجمہ کنزالایمان: "**الله** ثابت ساتي د ایمان خاوندان پهٔ حق خبره د دنیا پهٔ ژوند کښې او پهٔ آخرت کښې."(احیاء العلوم، 3/ 169)

دا خو زمونږه د بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پهٔ لیکلو کښې احتیاطونه وو خو د نن سبا پهٔ مضامینو او آرټیکلو کښې دومره دروغ وي چې زمکه او اسمان یو کړے شي، د داسې دروغو د لیکلو نه قلم کیښودل بهتر دي.

تیر وخت کښې مُعتَزِله نومې یوه بد مذهبه فرقه تیره شوې ده، د هغوئي جاحظ نومې یو ډیر لوئي عالِم وو، چې کله هغهٔ مړ شو نو چا هغهٔ پهٔ خوب کښې ولیدو پوښتنه یې ترینه وکړه چې پهٔ تا څهٔ تیر شو؟ نو هغهٔ ووئیل چې

پهٔ خپل قلم باندې هٰغه څهٔ لیکه د کومو پهٔ لیدو چې تهٔ خوشحاله شې. (احیاء العلوم، 5/ 266. احیاء العلوم مترجم، 662/5) پهٔ اوسني وخت کښې خلق پهٔ قلم څهٔ لیکي هېڅ پته ورته نه وي، د دې واقعې نه دې پهٔ سوشل میډیا او لیکلي مسیجونه خپرونکي عبرت حاصل کړي چې پهٔ خپله خُله هٰغه څهٔ وایه چې تاسو ته پهٔ آخرت کښې نجات درکړي، یو یو حرف پهٔ احتیاط سره لیکئ او وایئ خو دلته د مبالغې نه دومره کار اخستے کیږي چې بس.

## پهٔ، حمد، نعت او منقبت لیکلو کښې احتیاطونه

پهٔ نعت شریف، نظم یا شعرونو لیکلو کښې د نور احتیاط حاجت دے چې انسان پهٔ دې کښې انښلي څکه چې پهٔ دې کښې د ردیف او قافیے خیال ساتلے کیږي او د خپلې مصرعې د وزن برابرولو د پاره الفاظ لټول وي چې له وجې یې ډیر ازمیښت وي لهٰذا سلامتیا پهٔ دې کښې ده چې د حمد او نعت وغیره لیکلو کوشش ونکړے شي. پهٔ دې میدان کښې لوئي لوئي شاعران پهٔ کومو کښې چې نعت لیکونکي شاعران هم شامل دي هغوئي تیندکونه خوړلي دي او داسې داسې شرعي غلطیانې یې کړي دي او د دُنیا نه رخصت شوي دي چې اَلْاَمَان وَ الْحَفِیظ، لیکونکو د هغوئي مثالونه لیکلي دي چې فلانکے دومره لوئي شاعر وو، دومره دومره کلامونه یې لیکلي دي، نعتونه یې لیکلي دي خو دا دا غلطې خبرې یې لیکلي دي. یاد ساتئ چې د نعت لیکلو د پاره ضروري دي چې لیکونکے پوخ عالِم وي او د دې سره سره د شاعرۍ د فن نه هم خبر وي، که داسې نه وي نو کلام دې نه لیکي.
(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 32/3)

**سوال:** تاسو پهٔ یوه مَدَني مذاکره کښې فرمائیلي وو چې زهٔ به ککرې ګراؤنډ ته د لوبو د پاره پهٔ سرِک نهٔ اووښتم څکه چې زما مور منع کړے ووم، څهٔ ورځې مخکښې ستاسو د یو دوست سره زما ملاقات اوشو نو هغوئي یوه واقعه بیان کړه چې مونږه به پهٔ یوه کوڅه کښې لوبې کولې ما الیاس قادري ته ووئیل چې "راځه الیاسه! ککرې ګراؤنډ کښې لوبې کوو" هغوئي ووفرمائیل: "زما مور منع کړے یم" هغوئي ووئیل: مور خو پهٔ کور کښې ده هغې ته څهٔ پته لګي؟ نو هغوئي ووفرمائیل چې "نهٔ دروغ نه وایم" خوږه مرشِده صاحبه! زما تاسو ته خواست دے چې دا واقعه ماشومانو ته بیان کړئ د پاره د دې چې هغوئي چرته هم ځي چې خپل مور پلار ته وائي او ځي او دروغ نه وائي.

**جواب:** د ککړي ګراؤنډ او زمونږ د کور ترمینځه یو لوئي سړک وو، او پۀ هٰغه سړک به ګاډي ډیر پۀ سپیډ کښې تلل ځکه به زما مور زۀ پۀ هٰغه ګراؤنډ کښې د لوبو کولو نه منع کولم د پاره د دې چې ما ته څۀ قِسمه ضرر اونه رسي یقیناً چې دا د هغې زما سره محبت وو. ما خپلې مور ته دروغ نشو وئیلے ځکه چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زۀ به هم د وړوکوالي نه د **الله** پاک نه ویریدم.

(ملفوظات امیر اہل سنت، 67/8)

**سوال:** د دروغو او د چغلۍ نه د بچ کیدو څۀ طریقه ده؟

**جواب:** انسان د دروغو او چغلۍ نه هله بچ کیدے شي چې کله هغه ته د دروغو او د چغلۍ د تباهۍ پته وي او دا عِلم به د دیني کتابونو د لوستلو نه حاصلیږي. د دروغو نه د بچ کیدو کوشش جاري ساتئ او د دې سره سره **الله** پاک ته سوال هم کوئ، د **الله** پاک د رحمت نه اُمید دے چې د دروغو او د چغلۍ نه به نجات حاصل کړئ. که څوک دا وائي چې زۀ به پۀ ورو ورو دا پریږدم نو دا خیال د ذهن نه اوباسئ او فوراً دا ګناهونه پریږدئ چې د مرګ هیڅ پته نه لګي چې کله به راځي ځکه انسان له د خپلو ګناهونو نه زر توبه کول پکار ده. آؤ که څوک زیات چائے څښي او د هغه د پاره چائے هم ښۀ نه وي او هغۀ دا وائي چې زۀ به پۀ ورو ورو چائے پریږدم نو پۀ دې خبره انسان پوهیږي، خو د ګناهونو پۀ معامله کښې د ورو ورو معامله پرېښودل پکار ده. دغه شان که څوک شراب څښي نو هغۀ له هم پکار دي چې فوراً یـې پریږدي چې د دې څښل حرام او ګناه ده. د یوې ګناه پۀ قلاره قلاره د پرېښودو اجازت به هیڅکله هُم یو عالِم دین چرې هم ورنکړي. د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبة المدینه کتاب "غیبت کي تباه کاریاں" واخلئ او اوئې لولئ. د دې کتاب د لوستو سره به اِنْ شَآءَ الله الْکَرِیم! ستاسو پۀ عِلم کښې اضافه وشي. یاد ساتئ چې عِلم یو نُور دے او ګناه تیارۀ ده، چرته چې د عِلم نُور راشي نو هلته د ګناهونو تیارۀ نۀ پاتې کیږي.

(ملفوظات امیر اہل سنّت، 279/8، 280)

**سوال:** "جھوٹ کی تباہ کاریاں" کتاب به کله چاپ کیږي؟

**جواب:** که ژوند وفا وکړه نو د "جھوٹ کی تباہ کاریاں" کتاب لیکلو مې هم اراده ده ځکه چې د دې ډیر ضرورت محسوسووم. مخکښې مې خیال وو

چې غیبت زیات دے خو اوس دا ګنم چې دروغ د غیبت نه زیات دي. په هره خبره کښې دروغ وئیل عام شوي دي. که د ذمه دارانو او مبلغینو خبره وکړے شي یا د عوامو او د خواصو نو پته ورته هم نه وي او د خُلې نه یې دروغ ووځي، اوس چې زما په شان حساس انسان وي بعضې وخت هغه پوهه شي چې دې غریب ته پته هم نشته چې دے دروغ وائي خو ډیر ځل مې ورته د وئیلو همت نه وي. په کتاب کښې مې د مثالونو ورکولو سره د پوهه کولو ذهن دے. چې کله رایاد شي نو ډیر مثالونه د ځان سره لیکم د پاره د دې چې د **الله** پاک په توفیق سره چې کله کتاب لیکم نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په هغې کښې به یې ولیکم. بس **الله** پاک دې یې قبول کړي او اخلاص دې هم راعطا کړي.


(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 107/2)

**سوال:** آیا د دروغژن ګس څۀ نخښه شته؟ د پاره د دې چې د هغۀ نه ځان وساتلے شي.

**جواب:** د نخښې پته خو بعضې وخت د غیر مسلمه هم نه لګي. "یو ځل زۀ په یو ملک کښې ووم او زمونږه ګاډے په سِګنل کښې ولاړ وو، په دې کښې د چایو د هوټل نه یو ځلمے په منډه راووتو او د ګرم جوشۍ په انداز کښې یې ما ته "السلام علیکم" ووئیل، چا ما ته ووئیل چې دے غیر مسلمه دے." نن سبا خو د چا د مسلمانۍ پته هم نه لګي، ځکه چې مسلمانان هم د غیر مسلمو په شان جامې اغوندي او د هغوئي په شان ویښته جوړوي. د مسلمانانو رواج او دستور هم د غیر مسلمو په شان شوے دے. د خدائے پناه! پاتې شوه خبره د دروغژن ګس د نخښې، نو چې کله هغۀ دروغ ووائي نو هله به پته لګي چې هغۀ دروغژن دے، د هغې نه علاوه دا خبره څنګه معلومیدے شي! ځکه چې دا خو څۀ دونه نه ده چې حل به یې کړې. په حدیثِ پاک کښې د منافق دا نخښې بیان کړے شوې دي چې "هغه خبره کوي نو دروغ وائي، چې وعده کوي نو وعده خلافي کوي او چې د هغه سره امانت کیښودے شي نو خیانت کوي." (بخاری،25/1، حدیث:34)

( ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت ، 243/1)

د راتلونکې اونۍ مجله




978-969-722-639-9
01082482

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net